DAILY

اراده

دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۱۳۱
شماره مسلسل ۹۹۸
یکشنبه ۳۱ ثور ۱۳۸۵ هـ.ش
۲۲ ربیع الثانی ۱۴۲۷ هـ ق
21 May, 2006

PROPERTY OF ACKU

دولسي جرگې دشنبې ورځې په ناسته کې

گڼو وکیلانو په حکومت کلکې نیوکې وکړې

دشنبې په ورځ دولسي جرگې ناسته دیته ځانگړې شوې وه ترڅو دمالیې وزارت چارواکی دبودیجې دبرخلیک په اړه جرگې ته معلومات ورکړي.

پدغه ناسته کې وړاندې تر دې چې دمالیې وزارت کوم چارواکی جرگې ته راشي گڼو وکیلانو په حکومت کلکې نیوکې وکړې او وې ویل چې دولسي جرگې دغوښتنو او پوښتنو پر وړاندې حکومت په بیړه گام نه اخلی.

وروسته دبودجې دبرخلیک په اړه دمالیې وزارت د مالي چارو مرستیال وحید الله شهرانی دبودجې په اړه دوکیلانو دپوښتنو په ځواب کې دتیر په څیر یو ځل بیا وویل چې په بودجه کې دبدلونونو راوستل ستونزمن دی.

نوموړی په دې برخه کې دحکومت رسمی دریځ څرگند نکړ او وی ویل چې په وروستی پریکړه باندې کار کیږي او ژر به یې جرگې ته وړاندې کړو.



دشهرانی تر نوموړو څرګندونو وروسته جرگې پریکړه وکړه چې دیکشنبې تورځې باید حکومت دوی ته دبودجې دبرخلیک په اړه رسمی خبر ورکړي.

دجرگې د نوموړي غوښتنې په اړه شهرانی هیله مندی وښوده چې دیکشنبې تر ورځې به حکومت په دې برخه کې یوې پریکړې ته ورسیږي.

افغان دولت په پام کې لري چې دروان کال تر پایه پورې ۲.۱ میلیارد امریکایی ډالره عادی او پرمختیایی بودجه دولسی جرگې تر تصویب وروسته په مصرف ولږوي.

در درگیـــری های جداگانه تعدادی کشته ومجروح شدند

در درگیری میان نیروهای اردوی ملی و طالبان در ولایت هلمندو ارزگان ۴ تن از نیروهای اردوی ملی و دهها تن از مخالفین دولت کشته شدند.

جنرال ظاهر عظیمی سخنگوی وزارت دفاع ملی میگوید که درین درگیری ده تن از سربازان اردوی ملی نیز زخمی شدند.

بر اساس یک خبر دیگر در درگیری میان نیروهای امریکایی و طالبان در ولسوالی چهارچینوی ولایت ارزگان یک سرباز امریکایی کشته شد و ۹ تن دیگر جراحت بر داشتند.

سخنگوی وزارت دفاع ملی میگوید که در درگیری میان منسوبان لوای دوم قول اردوی ۲۰۵ اتل در ولسوالی دای چوپان ولایت ازرگان ۴ تن از مخالفان دولت کشته شدند.

وی افزود که سه موتر سایکل ویک راس اسپ مخالفان نیز بدست نیروهای اردوی ملی افتاده است.

آقای عظیمی گفت که در یک درگیری دیگر میان منسوبان لوای سوم قول اردوی ۲۰۵ اتل در ولسوالی سنگین ولایت هلمند چهار تن از سربازان اردوی ملی کشته شدند. وی علاوه نمود که درین درگیری تلفات سنگین نیزبه مخالفان دولت وارد شده است که در نتیجه ۲۰ تن از مخالفان دولت کشته وزخمی شدند.

وی افزود که عملیات تجسسی برای ردیابی دشمنان ازسوی سربازان اردوی ملی در ولسوالی های یاه شده آغاز شده است. ص۴

حادثه ترافیکی: شش کشته و سیزده زخمی بجا گذاشت

در نتیجه یک حادثه ترافیکی دیروز در ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر ۶ تن کشته وحدود ۱۳ تن دیگر مجروح شدند. قوماندان امنیه ولسوالی محمد آغه به خبر گذاری پژواک گفته است این حادثه زمانی در منطقه زهد آباد ولسوالی محمد آغه صورت گرفته که در مسیر راه کابل لوگر یک موتر نوع تونس بایک موتر فلینکوچ تصادم کرد. وی گفته است حالت مجروحین وخیم است.

قرار یک خبر دیگر در یک حادثه ترافیکی دیگر در شاهراه کابل کندهار ۴ تن به شمول یک زن کشته شدند. مقامات امنیتی ولایت قندهار گفت این حادثه صبح دیروز زمانی در منطقه شاه جوی رخ داد که یک موتر ۳۰۳ با یک موتر کرولا تصادم کرد

سرمقاله

ددولت لوړ پوړو مسوولینو ته د ډالري معاشونو بودجه له کومه کیږي؟

په هیواد کې دبیکاری اوسراسری بی امنیتی له پرتو او نه حل شوو ستونزو ترڅنگ یوه هم د دولتی ټیټ رتبه کارکوونکو دکمو معاشونو او امتیازونومسئله ده چې دڅه دپاسه ځلورو کلونو په موده کې ورته توجه شوې نه ده او نه حل شوی ده.

ددولتی کارکوونکو کم معاشونه او دپرون په څیر دکیږونی موادو نه ورکول ددې زمینه برابره کړیده چې دهیواد په تولو دولتی ادارو کې قانون تر پښو لاندې د بډو او هر راز اداری فسادونو دزیاتوالی زمینه برابره او زیاتې ستونزې یې رامنځته کړی دی.

دمالیې وزارت لوړ پوړو مسوولو چارواکوتل دبودیجې د کم والی له امله ددولتی کار کوونکو دمعاشونو دزیاتوالی په برخه کې منفی ځوابونه په داسې حال کې ورکړی دی چې دحکومت لوړ پوړی چارواکی په زرونو ډالری معاشونه دستر خوانونه ، لوکس گاډی او نور امتیازات ترلاسه کوی او دولتی مامورین د یوې مړۍ ډوډۍ پیدا کولو ته حیران دی.

اولس دمعاشونو دزیاتوالی اودولتی لوړ پوړو او کښته کارکوونکو دامتیازونو او معاشونو په برخه کې دقانون له مخې د یوه توازن د رامنځته کولو په برخه کې ملی شورا ته هیلې وی او اوس هم ورته سترگې په لاره دی.

دملت استازی باید له وزارت مالیې څخه دا پوښتنه مطرح کړی چې دکوم قانونی امتیاز په بنسټ د حکومت لوړ پوړی مسوولین او بې شمیره سلاکاران د زرونو ډالری معاشونه او امتیازونو مستحق بلل کیږي او دغه بودجه تاسو ته له کومه راځی چې دهیواد ددولتی کارکوونکو په هکله یې وچه تیره تر غابښ لاندې کړی ده.

اوس چې د ملت استازو دملت په خاطر دبودجې په برخه کې لازم او قانونی تصمیم نیولی نه یوازې دا چې ددولتی مامورینو دمعاشونو په برخه کې زیاتوالی راولی بلکې د لوړ پوړو دولتی کارکوونکو او ټیټ رتبه دولتی کارکوونکو دمعاشونو ډالری تفاوت باید له منځه یوسی او که نه، نه یوازې به استازی خپل باور له لاسه ورکړی بلکې ددولت او ملت تر منځ به نور هم واټن پراخه او ددښمن ویالی ته به په لوی لاس اوبه واړول شي.

په مزار شریف کې ښوونکو اعتصاب وکړ

په مزار شریف کې دباختر دلیسې ښوونکو د شنبې له سهار څخه تدریس ته دنه حاضریدو اعتصاب کړی ددغې لیسې ښوونکی ته په تیرو دري میاشتو کې میاشتینی تنخواوې نه دی ورکړل شوی. د غه راز ښوونکی غواړی چې تنخواوې زیاتې او دښوونځیو په عمومی وضعیت کې ښه والی راشي.

دا پداسې حال کې چې د باختر دلیسې ۱۰ زره زده کوونکو هم به دې اعتصاب کی له خپلو استاذانو سره گډون کړی و. خو لاتر اوسه د معارف ریاست چارواکو ددوی دغوښتنو په ځواب کې څه نه دی ویلی.

شش عراده موتر را آتش زدند

شش عراده موتر غیر نظامی در قلات مرکز ولایت زابل از سوی افراد مسلح ناشناس دو روز پیش به آتش کشیده شد.

گلاب شاه علی خلیل سخنگوی والی زابل میگوید که به اتهام این رویداد دو مظنون بازداشت شدند.

افراد مسلح ناشناس دو روز پیش ۴ عراده موتر غیر نظامی را در مسیر شاهراه کابل کندهار که از ولایت هرات به کابل توسط یک موتر تریلر انتقال داده میشدند آتش زدند. گفته می شود که درین رویداد به رانندگان آسیب نرسیده است اما موتر های آنان کاملاً سوخته است. سخنگوی والی زابل گفت که بعد از وقوع این رویداد پولیس به محل حادثه رسیده و در نتیجه بازجوی ها دو مظنون را به اتهام این رویداد باز داشت کردند و در مورد باز پرسی ها جریان دارد.

اخبار ضد و نقیض پیرامون دستگیری ملا دادالله



گزارش های خبری حاکی است ستیزه گری که در جنوب کشور دستگیر شده است، ممکن است بر خلاف آنچه پیشتر گمان می رفت، یکی از فرماندهان ارشد طالبان نباشد.

خبرگزاری آسوسیتد پرس روز جمعه به نقل از یک سخنگوی اردوی امریکا گفت گزارش های قبلی که گفته می شد "ملا داد الله" بازداشت شده است ممکن است درست نباشد. با این حال، او گفت اطلاعات وی در باره ستیزه گرانی که در عملیات مشترک نظامی امریکا و افغانستان دستگیر شده است محدود است.

"دادالله" که در نیمه دهه ۱۹۹۰ یک پای خود را در جنگ از دست داد، یکی از فرماندهان ارشد گروه تروریستی طالبان تلقی می شود و مسئولیت عملیات را در شرق و جنوب کشور بر عهده دارد. ص٤

دبې وسلې کولو پای ته نه رسیدونکی بهیر

IWPR

افغانستان دهغه شمیر هیوادونو په لیکه کې دی چې بې وسلې کول په کې له یوې سترې ننګونې سره مخامخ دی، څکه دڅه ناڅه دریو لسیزو جګړو پر مهال بې شمیره او بې اندازې وسلې په کې ډیرې شوی دی که دوسلو بشپړه اندازه له چا سره نه وی نو څه به پوه شي چې نورې څومره وسلې لا پاتې دی.

سره له دې چې پوځی چارواکی یوازې په شمالی ولایتونو کې له یو میلیون څخه دزیاتو وسلو دشتون خبره کوی خود ناقانونه وسلو کره اټکل د هیچا په واك کې نه دی.

یو شمیر څارونکی وایی د۲۰۰۵ کال دجون په میاشت کې دناقانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو نوپروگرام د(ډیاك DiAG) لاندې دشلو زرو ټولو شویو وسلو برسیره زیات شمیر ټوپکوال دهیواد په پاتې برخو کې شته دی او داسې نه بریښې چې دا پروگرام دې دویاړنې وړ وی. په راټولو شویو وسلو کې اووه زره وسلې زړې او زنګ وهلې وی اویا له کارونې وتلې وې. دا جوته خبره ده چې د بې وسلې کولو پروګرام ته لا په افغانستان کې ډیر وخت پاتې دی.

ډیاك دافغانستان دنوې پیل د پروگرام (ANBP) یوه برخه ده چې دجاپان، کاناډا، برتانیې، دامریکا دمتحده ایالتونو او هالنډ په ګډون دیو نړیوال کانزرسیوم له خوا دملګرو ملتونو د پراختیایی پروگرام تر مشرۍ لاندې تمولیږي.

ددې پروگرام لومړی برخه چې دبې وسلې کولو او ملکی ژوند ته دبیرته راستنولو د پروگرام DDR تر نامه لاندې له ملي اردو څخه بهر دنیمه رسمی پوځی یونټونو پورې داړوندو جنګیالیو دبې وسلې کولو په موخه پیل شوی وه. د ۲۰۰۵ کال دجولای دمیاشتې په پای کې بشپړه شوه.

له هغې وروسته د ډیاك پروگرام خپل پام د هغې پرڅای دبیلابیلو څواکمنو قوماندانانو په خوا وشا راټول شویو غیر منظمو وسله والو ډلو ته وارولو چې زیاتره وخت د خپلو وسلو دزور له لارې دڅایی خلکو د ډار او ترهې لامل کیدل.

د ډیاك دپروگرام دویاند، احمدجان نوزادی داټکل له مخې لاتر اوسه د افغانستان په ټولو برخو کې د ۱۲۵ زرو تنو په شته والی ۱۸۰۰ وسله والې ډلې شتون لري.

نوموړی د می دمیاشتې په سر کې په مزار شریف کې اخباروالاوو ته ویلی و: «زیاتره دا ډلې دنیشه یې توکو په کرکیلې او لیږدولو کې لاس لري. دنیشه یې توکو له قاچاق وړونکو سره یا مرسته کوي او یا دهغوی ننګه کوی او په دې توګه په هیواد کې دامنیت دګډودی لامل کیږي.»

نوزادی آی ډبیلو پی آر ته وویل: د ۲۰۰۵ کال دجون په میاشت کې دپروگرام له پیل راهیسې دسږ کال د اپریل تر نیمایی پورې دپخوانیو ملیشو نژدې ۹۴۴ تنه قوماندانان بې وسلې شوی او ۲۰۴۱۱ بیلابیلې وسلې ټولې شوی دی. په پام کې ده چې دا پروگرام په ۲۰۰۷ کال کې هم داوم ومومی.

نوزادی وایی: په راټولو شویو وسلو کې ۱۳۵۷۶ هغه یې دکارونې وړ وې او ملی اردو ته سپارل شوی دی پاتې نوری له منځه وړل شوی دی.

هغه وایی: «لاتر اوسه داسې قوماندانان شته چې په بشپړ ډول بې وسلې شوی نه دی هغوی خپلې یو شمیر وسلې پټې کړی دی.

پخوانی او اوسنی جنګ سالاران په وړیا توګه دوسلو په سپارلو خوښ نه دی په پروگرام کې له هغو خلکو سره چې خپلې وسلې سپاري، په خصوصی سکتور کې د دندو دمیندلو دمرستې ژمنه شوې خو د افغانستان اوسنی اقتصاد دټولو وزګارو دجذبولو وړتیا نه لري.

دفاریاب د ولایت یو پخوانی قوماندان، چې نه یې غوښتل ونوموول شي وویل: «دا پروگرام په بشپړ ډول نامناسب دی څکه حکومت زموږ وسلې په وړیا توګه را څخه اخلی مجاهدینو دا وسلې دخپل ژوند په بیه لاسته راوړی دی او وړیا به یې له لاسه ورنه کړی.

نوموړی قوماندان دخلکو دبې وسلې کولو دپروگرام دبریالیتوب په اړه شك څرګند کړ.

هغه وویل: «یوازې یو شمیر بیکاره وسلې حکومت ته ورکړ شوی دی هغه په ساتلو نه ارزیدی. که چیرته دوسلو کارونې ته نوره اړتیا نه وه، نو لږ تر لږه به یې وپلورو. دا کار به حکومت ته په وړیا توګه دوسلو له سپارلو څخه غوره وي.»

خو نوزادی دستونزو دشتون دمنلو ترڅنګ په دې ټینګار کوی چې ډیاك به خپله موخه تر لاسه کړي.

هغه وویل: «کله چې موږ په راټلونکې کې قوماندان ته ورڅو بنایی خپلې وسلې په اسانی موږ ته رانه کړی خودا پروگرام په داسې یوې لارې جوړ شوی چې که چیرته په کوم قوماندان فشار راوړل شي نو هله به دخپلو وسلو سپارلو ته غاړه کیږدي.»

ډیاك درې مرحلې لري لومړی مرحله دقوماندانانو په خپله خوښه دوسلو د سپارلو برخه وه چې یو شمیر یې په تیر سپتمبر کې دپارلمانی ټاکنو ترمخه دا کار وکړ. له ناقانونه وسلو والو ډلو سره تړاو پارلمانی ټاکنو ته د ودریدو مخه نیوله. له دې امله دپروسږ کال په اوړی کې دڅان دپاکولو اوپارلمان ته دکاندیدولو په خاطر یو شمیر پخوانیو جنګ سالارانو خپلې وسلې وسپارلې.

د ډیاك دپروگرام په دویمې مرحلې کې له څایی قوماندانانو څخه دهغوی دوسلو دسپارلو غوښتنه کیږي داپروگرام زیاتره دقانون دپلې کوونکو ارګانو په ګډې مرستې پورې تړلی دی.

څکه دهغوی په مرسته د ډیاك زیاتره دقانون دپلې کوونکو ارګان په ګډې مرستې پورې تړلی دی.

څکه د هغوی په مرسته د ډیاك دپروگرام چارواکی دوسلې ډیپو ګان او دهغوی خاوندان موندلای شي.

نوزاد وویل: «د وسلو دټولولو لپاره موږ په رښتینی توګه د څایی پولیسو او ملي اردو مرستو ته اړ یو.»

که درسمی غوښتنې له مخې قوماندانان خپلې وسلې تسلیمې نه کړی نو ډیاك به هغوی په زور بې وسلې کړي.

دکورنیو چارو وزارت ویاند، یوسف ستانیزی وویل: «وسله والې ډلې باید په دې وپوهیږي چې پولیس او ملي اردو دهغوی د دروازو مخې ته ولاړ دی او په دې توګه به بې وسلې شي. دوسلو دکارولو وخت تیر شوی دی.»

د اردو یو پخوانی افسر او سیاسی څیړونکی اسدالله ولوالجی وویل: «څایی قوماندانان په وزارتونو کې دحکومتی چارواکو تر ملاتړ او حمایت لاندې دی. هغوی په خپلو سیمو کې دلوړ پوړو حکومتی چارواکو ګټې ساتلی دی.»

دولوالجی په اند زیات شمیر حکومتی چارواکی دبیلابیلو وسله والو ډلو په ملاتړ څوکی ترلاسه کړی دی چې هغوی بیا په خپل وار زیات شمیر خلك ترلاسه لاندې لري. له دې لارې چارواکی خپل ملاتړ ترلاسه کوی او که چیرته کابل دهغوی دبدلون هڅه وکړی نو له مقاومت سره مخامخ کیږي هغه وایی: دنیشه یې توکو سوداګری هم رول لري.

نوموړی وویل: دنیشه یې توکو قاچاق زیاتره ددې ډلو په واسطه کیږي چې په زیاترو وزارتونو کې نیشه یې توکو له مافیا سره تړاو لري.

ولوالجی وړاندې وایی، پخپله نړیواله ټولنه هم دستونزې یو څه مسوولیت په غاړه لري څکه هغوی په خپل وار پخوانی جنګ سالاران تر سیاسی پوښښ لاندې راوستی دی.

هغه وویل: «تر هغه چې دا قوماندانان له حکومتی لوړو څوکیو څخه لیرې شوی نه وی د وسلو ټولول به هیڅ ګټه ونه لري.»

دبې وسلې کولو په لاره کې بل خنډ دطالبانو اودهغوی دملاتړو روان بغاوت دی، چې په دې توګه هره ورځ هیواد ته زیات شمیر وسلې راوړل کیږي. نوزادی وایی: دا وسلې د ډیاك په پروگرام کې شاملی نه دی.

هغه وویل: «که وسلې دحکومت مخالفینو ته ورکول کیږي هغه زموږ کار نه دی. د ډیاك پروګرام هغه وسلې راغونډوی، چې په هیواد کې دناقانونه وسله والو ډلو په لاسونو کې دی. هغه خلك چې د حکومت په وړاندې جګړه کوی، هغه دحکومت دښمنان بلل کیږي. باید حکومت له هغوی سره چال چلن وکړی.»

په مزار شریف کې یو سیاسی څیړونکی، قیوم بابك وایی: د ډیاك دپروگرام د پاتې والی پړه په حکومت کې دواکمنو کسانو په غاړه ده.

هغه وویل: «که حکومت غوښتلای نو ټولې وسلې یې ټولولای شوې. له قوماندانانو سره د تړاو له امله هغوی دنوموړو (وسله والو) دبې وسلې کولو کوم دلیل نه ګوري.»

بابك زیاتوی له دې سره سره وضعه دښه کیدو په حال کې ده دنوی ملی اردو اوپولیسو په پیاوړی کیدو به دولس د داړولو په اړه دڅایی قوماندانانو زور اوبه شي.

هغه وایی: «نن ورځ د هیواد په یو کونج کې هم کوم قوماندان له اردو اوپولیسو سره دشخړې وس نه لري که چیرته حکومت په قوماندانانو فشار راوړی، نو هغوی بې وسلې کولای شي.»

په عین وخت کې بابك ګوته وڅنډله چې ددفاع اوپولیسو څواکونو یوه برخه له ناقانونه ډلو سره نژدې اړیکې لري.

نوموړی وویل: «هغه ډیرې نژدې اړیکې لري تر هغه چې ددفاع او کورنیو چارو وزارتونه نوی نه شي او په صداقت دوسلو ټولول پیل نه شي، نو زیاتې پیسې به ولګیږي او د ډیاك او ډی ډی آر په خیر زیات پروگرامونه به رامنځته شي خو افغانستان به ددې وسلو له غمه خلاص نه شي.»

زنده گی امنیت و صلح

از زنده گی تعریف های گوناگونی نظر به فلسفه ها و سلیقه ها و جهان بینی ها شده است. اما یکی از تعریف ها چنین است: «زنده گی خوشبختی است به شرط آنکه همه خوشبخت باشند.» یعنی تنها خوشبختی فردی مهم نیست خوشبختی دیگران هم مهم است یا به سخن معروف «بنی آدم اعضای یکدیگرند» ببینیم خوشبختی چیست؟ بعضی ها فکر می کنند، خوشبختی به پول، مال، مقام ووابستگی ها است.

اما چرا آنهاییکه این ها را دارند خوشبخت واقعی نیستند؟

زنده گی دو بعد دارد: یکی بعد فزیکی و ظاهری که پول، مال، مقام و غیره است و دیگری بعد درونی و معنوی که در واقع همه حرکات ظاهري و دیدنی های شکلی هم از همان درون یا باطن سرچشمه می گیرد. روان شناسان معتقدند که چرخ زنده گی ظاهری را همان فعالیت های درونی به کار وامی دارد، محرک اصلی حرکات درونی است. پس شناخت درون مهم است.

وشناخت درون مشکل هم است. زیرا مابا پدیده ناشناخته و نادیدنی مواجه هستیم چیزی که وجود دارد ولی مانند سبزی برگ سبز ظاهراً دیده نمی شود. پس انسان همه تلاشش به خاطر آرامش است. به خاطر رضایت معنوی و روحانی است. اگر نوبل حاضر شد همه ثروت خود را وقف خدمات بشری کند. یعنی از پول و لذت ظاهری گذشت به خاطر آرامش درونی رشد بوده است. وگر نه چه منظوری داشت؟ منظورش دیگران شدن و خدمت به خلق خدا به خاطر. امنیت خاطرش ودرونش.

پس امنیت خاطر هم از درون منشاء می گیرد. امنیت هم فزیکی و ظاهری است و هم درونی و معنوی که درونی آن آرامش و رضایت بار می آورد. یکی از بزرگان دین اسلام حضرت علی کرم الله وجه شام اول برای بینوایان وفقرا پنهانی غذا می برد و بعد خودش در آخر غذا می خورد. لباس برای برهنه ها می داد و در آخر خودش لباس می پوشید. سخاوت و کرم و نیکی و خیر برای آن بزرگوار آرامش وامنیت و صلح می داد. می گفت: اگر دیگران گرسنه، برهنه و ناتوان باشند. مسلمانی ما و آنهای که توان دارند زیر سوال است. یعنی زنده گی هر انسان وابسته به زنده گی دیگران است.

به گفته معروف:

توکز محنت دیگران بیغمی
نشاید که نامت نهند آدمی

اما امنیت، آرامش وصلح انسانها را و بشریت را چه چیزی برهم می زند. وابستگی روان شنسی و عرفان، عرفان اسلامی وعرفانهای دیگر یعنی هندی وعیسوی، بودایی و غیره می گویند که «وابستگی انسان را نا آرام می کند» وابستگی، حزبی، فکری، ایدیالوژیکی، وغیره روان شناختی وعرفان می گوید: «که وابستگی آزادی و آزاده گی آدمی را سلب می کند وابستگی زنده گی واقعی را بیرنگ می سازد. و استقلال انسان از دست می رود. این جاست که آدمی نوکر و غلام می شود. ونوکری وغلامی پول مقام و جاه و جلال وحزب وغیره آزاده گی واقعی را از انسان مي گیرد و آرامش وامنیت وصلح طبیعی و فطری هم ازدست می رود. پس انسان موفق کسی است که مستقل باشد نه وابسته تا آزاد باشد و صلح داشته باشد.

رحمت الله رسا

متصدی: ناصر بشر

رانلونکی د ځوانانو ده

ښوونځیو د کیفی خوا په لوړولو کې ښوونکي زیات مسوولیت لري

داسې یو وخت په هیواد کې موجود و چې خلکو به نه غوښتل خپل زامن په ښوونځیو کې شامل کړي دانجونو دزده کړې په باره کې خو یې ډېر سخت مخالفت کاوه آن دښوونځیو مسوولین به دیته مجبوریدل حې دلومړي ټولګی لپاره دنوو زده کوونکو د شمول په وخت کې له ولسوالی څخه عسکر راوغواړي او دهغوی دزور په واسطه به یې پلرونه مجبورول او د لومړي ټولګی تعداد به یې پوره کاوه.

خو نن سبا حالاتو دومره بدلون موندلی دی چې هره کورنی په دې هڅه کې ده چې په خپلو بچیانو ښوونځي ووایی او همد واجه ده چې نن سبا دهیواد په هر ګوټ ښوونځی ارتقا کوی نوی ښوونځی جوړیږي خو د اقتصادی ستونزو له امله اوس دښوونې او روزنې وزارت نشي کولای درسي مواد درسي خوني او ښوونکي ورته پوره کړی موږ دټول هیواد په سطحه له ۶ میلیونو څخه زیات زده کوونکی لرو خو دټولو لپاره ضروری اسانتیاوې پوره کړی شوی نه دی.

دننګرهار دښوونې او روزنې دلوی رئیس محمدحنیف ګردیوال دوینا له مخې یوازې په ننګرهار ولایت کې د ۱۳۰۰۰۰ انجونو په ګډون ۳۷۰۰۰۰ زده کوونکی په لوست بوخت دی چې ددغو زده کوونکو یوازې ۶۵۰۰ ښوونکی چې ۸۰۰ پکې ښځینه ښوونکی دي په لوست ورکولو بوخت دی او په دې برخه کې ۳۵۰۰ ښوونکی لانور هم کم دی.

ګردیوال وایی زموږ ۱۰۰ ښوونځی سر پناه نه لري او له دغې ستونزې سره سره دمسلکی استاذانو، نقشو، لابراتوارونو او کتابونو کم والی زموږ د زده کوونکو په کیفی وده کې پوره ستونزې رامنځته کړی دی.

خو دپورته ستونزو له شته والی سره سره په ننګرهار کې دتعلیمی برخې دځلولو په برخه کې زیات کارونه هم شوی دی چې/له سترګو یې غورځولی نشو.

دبیلګې په توګه دښوونکو دروزنې په خاطر دارالمعلمین بیا فعال شو دشپې لیسه جوړه شوه دنظم او سپلین په برخه کې هم یو نسبی اصلاحات رامنځته شوی دی دښوونکو دروزنې لپاره دفعال تدریس په برخه کې ورکشاپونه جوړ شوی دی او لااوس هم دغه لړۍ روانه ده.

یوازې سږ کال ۴۰۰ ښوونکو دغه ورکشاپونه سرته رسولی دی.

حنیف ګردیوال زیاته کړه چې موږ په ښوونځیو کې دتعلیمی اوروزنیزې دبرخې دپیاوړتیا په خاطر په ښوونځیو کې دپیوستون کمیټې جوړې کړی دی، دښوونکو انجمنونه، مشورتي بورډونه، دمعارف په سطحه لویه فرهنګی شورا او دغه راز دمعارف له خوا موږ دښوونې اوروزنې په نامه دیوې مجلې په خپرولو هم بریالی شوو موږ هیله لرو چې په ننګرهار کې دښوونې او روزنې کمی او کیفی برخه خپل اصلی تګ لوري ته برابره کړو.

حنیف ګردیوال په ښوونځیو کې دنظم او دسپلین په باره کې د زده کوونکو یونیفورم ضروری بولي وایی: ما په هغو ښوونځیو کې چې میزونه او څوکی لري په شاګردانو د دریشی اغوستلو لپاره لازښوونه کړی ده او دشاګردانو له کورنیو سره ارتباط پیداکوو.

خو د نادریې دلیسې یو پخوانی استاد سالارزی په ښوونځیو کې دنظم او دسپلین په هکله داسې نظر ورکړی زما په نظر خبره داسې ده چې باید په ټولګی کې زده کوونکو تعداد کم شي ۸۰ نفر هیڅوک کنترول کولای نشي له یوې خوا به کنترول وشي او له بلې خوا به فعال تدریس عملی شي.

دویم دا چې دښوونکو تنخوا کمه ده ښوونکی هم چندان دلچسپي نه لري اودریم دا چې دزده کونکو عمر د صنف په تناسب زیاد دی داسې دزیات عمر زده کوونکی باید دشپې لیسې ته تبدیل شي. د اداري له خوا کنترول وشي هغه زده کوونکی چې بې بندوباره دی هغوی ته سزا ورکړل شي دمعلمینو حیثیت ته اداره قایله شي تر زده کوونکو.

خو دتالقانو دپوهنتون د یو خدای بښلی استاد نظام الدین اکید په وینا اصلاً او به له پاسه خرابی دی اوسنی لایحه باید بدله شي انضباطی سزاګانې زیاتې شي په جعلی تصدیقونو بندیز ولګیږي او دښوونکو له خوا ورکړل شوی نمری د با صلاحیت هیئت له خوا کنترول شي.

خکه چې زده کوونکی له دې امله چې نه غیر حاضر کیږي له صنف ووځی او له دې ا مله چې جعلی تصدیق راوړلی شي.

ډاډه دی او له دې امله چې نه ناکام کیږي له مشروطی نه ویریږي او یقینی ده چې ښوونځیو کې نظم او کیفی سطحه پخپله ښوونکو خرابه کړی ده. څکه چې ښوونکی خیراتی نمرې ورکوی که ښوونکی شاګرد ته دهغه دسویې سره سمې نمرې ورکړی او اصول مراعات کړی اداري سره همکارا وسي دلیسې مدیر که هر څوک وی اداره کولای شي خو په دې شرط چې مدیر هم معلمان په غیرکې ونیسي او د شاګرد په وړاندې یې دفاع وکړي.



دښمنو لپاره د زده کړې فرصتونه

دافغانستان امریکایی پوهنتون خپلې دروازې دلومړي ځل زده کوونکو پرمخ پرانیستی دی. سره له دې چې دهغه دلوړې روزنیزې کچې او په انګلیسی ژبه لوست د هرچا پام ځانته اړولی دی. خو د زیاترو ځایی خلکو لپاره یوه پخسوونکي خبره ده

دپنځو زرو ډالرو کلنی تدریسی فیس هغه دپوهنتون دمنګ دزیاترو ځوانانو له وسې بهر کړی دی او په دې توګه یوازې دسیاسی کړیو اړوند زده کوونکي ترې ګټه پورته کولای شي.

وړمې قانوني وویل: ما په هند او لندن کې زده کړه کړی ده، ما دا پوهنتون د هغې زده کړې دښه کیفیت له امله غوره کړی دی.»

نوموړي پوهنتون دکابل ښار په جنوب لویدیځې برخې کې د دارالامان مانۍ ته څیرمه پروت دی دا درې پوړیزه ودانۍ په شپږ جریبه ځمکه کې ودانه شوې ده.

د مارچ په میاشت کې یې دخپل پیل راهیسې د ۱۶ نجونو په ګډون ۴۸ زده کوونکی جذب کړی دی. نوموړي زده کوونکی دچمتووالی د دورې، انګلیسی ژبې، دمعلوماتی ټکنالوژۍ اودسوداګرۍ د اداري په کورسونو کې په زده کړه بوخت دی.

نوموړي پوهنتون به په راتلونکی منی کې دسلو تنو په شاوخوا کې زده کوونکی ومنی اوس مهال به پوهنتون یوازې د معلوماتی تکنالوژۍ اودسوداګرۍ په اداروکې زده کوونکی وروزي.

دپوهنتون رئیس شریف فایض وویل: «دا پوهنتون به په سیمې کې دپرمخ تللو او ډیرو ښو پوهنتونونو په ډلې کې وی دهر هیواد زده کووونکی دلته دزده کړې لپاره راتلای شي.»

هغه زیاته کړه: دا پوهنتون دامریکا دمتحده ایالاتو او افغانی سوداګرو په مالی مرسته ودان شوی دی. دامریکا متحده ایالتونو اوه لس عشاریه اووه میلیونه ډالره ژمنه کړې او افغانی سوداګرو ۵۰۰۰۰۰ ډالره مرسته کړې ده.

نوموړي پوهنتون یوه ۱۵ کسیزه شورا لري چې دولس تنه یې افغانان او درې تنه یې امریکایان دی . نوموړي شورا په کال کې دوه ځلې غونډه کوي، دتګلارې په هکله پریکړې کوی او د پوهنتون تعلیمی اواکادمیك پلان جوړوی نوموړی شورا دپوهنتون مشر هم ټاکي.

دپوهنتون اوسنی ودانی لنډ مهالې ده اوډیر ژر به څیرمې هغې ودانی ته ولیږدول شي چې ځمکه یې د حکومت له خوا ورکړ شوې ده.

دپوهنتون دزده کې فیس په داسې یو هیواد کې چې زیاتره کارکوونکی یې له سلو ډالرو لږ میاشتنی عاید لري، ډیر لوړ دي.

وړمه قانوني وایي: «دا سمه ده چې پنځه زره ډالره زیاتې پیسې دي خوکه دپوهنتون اسانتیاوې او دزده کړې کچه په پام کې ونیسو نودا اندازه دمنلو وړ ده.»

فایض وویل: سږ کال به پوهنتون په سلو کې نوی زده کوونکو ته سکالر شیپ ورکړی سکالرشیپونه به دوړتیا له مخې وی. هغه شمیر زده کوونکی چې دشاملیدو په ازموینه کې لوړې نومرې واخلی نو په هماغه اندازه به ورته لوړ سکالر شیپ ورکړ شي دا سکالر شیپ به دزده کړې د فیس په سلو کې له ۳۰ څخه تر ۶۰ پورې وی.

خو دزده کړو دوړیا دولتی موسسو په پرتله له نوموړو سکالرشیپونو سره سره په دې پوهنتون کې د شاملیدو بیه ډیره لوړه ده .

تصریه پښتون چې له شمتنې سیاسی کورنی څخه ده څکه دې پوهنتون ته راغلې ده چې د افغانستان په رسمی ژبو پښتو اودری دواړو کې ستونزې لري د خپلو زیاترو همزولو په څیر نصریې پښتون دجګړې کلونه له هیواد بهر تیر کړی دی.

هغې وویل: ما په پاکستان کې لوست ویلی دی او په انګلیسی ډیره ښه پوهیږم له دې امله دلته راغلی یم . دلته ټول مضمونونه په انګلیسی ژبه لوستل کیږي.

بل زده کوونکی احمد جواد مراد وویل: چې د پوهنتون لوړو اسانتیاوو دې ځای ته راکش کړی دی.

دپوهنتون دزیاترو زده کوونکو د «سیاسی تړاو» له امله پوهنتون ټینګ امنیت نیولی دی دپوهنتون ودانی د ۲۰ تنو امنیتی کارکوونکو له خوا څارل کیږي دې کار کوونکو ته پوهنتون معاش ورکوی یوشمیر امنیتی کارکوونکی دکورنیو چارو او ددفاع وزارت دمځکنیو کارکوونکو له ډلې څخه ګومارل شوی او نور پاتې یې دکارول (Karol) په نامه امنیتی شرکت چمتو کړی دی ټول ساتونکی افغانان دی.

دا پوهنتون دخلکو په منځ کې نوم نه لري. یو شمیر شکایت کوی چې دپوهنتون لوړ فیس پوهنتون ته دزیاترو افغانانو دشاملیدو مخه ډب کړې ده.

له دولسم ټولګی څخه یو پروسږنی فارغ زده کوونکی، فرهاد علیزاده وویل: دا پوهنتون دوزیرانو، قوماندانانو اودښمنو خلکو داولادونو لپاره جوړ شوی نه زما لپاره زما پلار یو دولتی مامور دی او دمیاشتې ۶۰ ډالره معاش لري.

په افغانستان کې پاکستان له نړۍ سره لاس په ګرېوان

ابراهیم ناصر

د ساړه جنګ له ټکي سره افغانان تر بل هر چا ډېر ښه اشنا دي. افغانستان په وار وار د نړۍ د سترو قوتونو تر مينځ په بېلابېلو رنګونو او بڼو د سړې جګړې ميدان ګرځېدلی. هغه که د خپل وخت تزاري روس و او که د انګلستان ستر سلطنت، که کمونستي شورويان وو او که نور. او يا د وړو ملکونو لکه ايران، پاکستان، هندوستان، او د عربستان تر مينځ هغه سيالي چې د شوروي له رنګېدو وروسته په افغانستان کې پيدا شوه او افغانستان يې په کنډوالو بدل کړ.

خو له نېکه مرغه نن، تر بل هر وخت زيات، د نړۍ ټولو هيوادونو يو بل ته لاسونه سره ورکړي او د وران ويجاړ افغانستان د بيا رغوني له پاره يې لستوني پورته کړي دي. تر څو وکولای شي دغه هيواد بېرته په خپلو پښو ودروي.

په دې کې شک نشته چې ستر قوتونه لکه امريکا او روس او ګاونډي هيوادونه لکه ايران او هندوستان هر يو په خپل ځای کوښښ کوي چې د افغانستان له خلکو او دولت سره دومره نږدې اړيکې ولري چې په راتلونکي وختو کې يې خپلې ګټې تر بل هر چا لومړيتوب ولري. او خوندي وساتلې شي. دغه رنګ سيالي يوه ډېره مثبته ښه لري څکه ټول سيال هيوادونه له خپل وس سره سم د افغانستان له خلکو او دولت سره خپل نږدېوالی د لا زياتو مالي مرستو او نورو ژمنو په رنګ کې ښکاروي، کوم ته چې افغانستان دا وخت ډېره اړتيا لري. که امريکايان د خپل غټ پوځي قوت له لارې د طالب جنګيالو او د عرب ورانکارو په ځپلو او له نړۍ څخه د مالي او پوځي مرستو را جلبولو بوخت دي، نو انګرېزان، جرمنان او نور اروپايان د ملي اردو او پوليسو په روزلو. که ايرانيان د سړکونو، مخابراتو او د تجارت په ډګر کې مرسته کوي، نو شتمن عرب هيوادونه د ريالو په ورکولو او په اسلامي ملکونو د خپل ډيپلوماتيک برلاسي په اثر خپله ونډه اخلي. او داسې ډېر نور هيوادونه د صحت، ښوونې او روزنې په ډګر کې او مدني ټولنو په جوړولو کې زيار باسي.

دلته د ګاونډي هيواد هندوستان هغه بېساري مرستې چې له سلهاوو بسونو او يو شمېر الوتکو نيولې تر سړکونو جوړولو، د مخابراتي نظام ځای په ځای کولو، د ښوونځيو په جوړولو، او په تېره بيا د پارلمان د نوې ودانۍ په جوړولو کې يې تر سره کړې دي ډېرې د ستاينې وړ دي. او افغانان په رښتيا ډېر په درنه سترګه ورته ګوري.

يواځينی ملک چې له افغانستان سره د نړۍ په دغو مرستو سوزي او د افغانستان د بيا رغوني په ګړنديتوب ناخوښه دی، هغه پاکستان دی. پاکستان په تېره بيا د هندوستان په پروژو، او د هند او افغانستان ټينګو اړيکو په وير کې اچولی دی. نو څکه يې ځان ته له ټولې نړۍ ګوښې، د ورانکارۍ، لاره خپله کړې ده

پاکستان په کلکه د پخوانيو طالبانو او ګلبدين ډلويانو په لاس د افغانستان د بيارغونی په لار کې خنډونه اچوي، او نه غواړي چې امريکا، اروپا او نور ملکګري ځواکونه په افغانستان کې په نوو اصولو ولاړ او په نوو وسلو سمبال اردو او پوليس و روزي. دوی نه غواړي چې په افغانستان کې د زدکړې کچه تر پاکستان لوړه شي، نه غواړي چې په افغانستان کې سړکونه جوړ شي او افغانستان له اقتصادي نظره دومره په مخ ولاړ شي چې خپل خلک يې خوشاله ژوند ولري، او د لري پښتونخوا خلکو ته تر لاهور ګټور و برېښي.

پاکستان تر ټولو زيات غاښونه هندوستان ته چيچي او په افغانستان کې د دوی وګړي په نښه کوي تر څو هند دې ته اړ کړي چې په افغانستان کې د بيا رغوني کارونه بند کړي، له افغانستان نه لاس واخلي او پاکستان ته لار ورکړي چې د تېرو دوو لسيزو په شان د افغانستان خاوره او خلک د خپلو سياسي او ستراتيژيکو ګټو له پاره د نورو هيوادو خلاف وکاروي. نو څکه يې په هندوستاني انجينيرانو او نورو کارکوونکو پسې را اخيستې ده. د هندي موټروان منيپان او انجينير نرايانا بېرحمه وژنې يې ښکاره بېلګې دي. هم دا رنګه يې په کوزه پښتونخوا کې د طالبانو غورځنګ نه يواځې ژوندی ساتلی او له هغو سره يې هر رنګه مرستو ته دوام ورکړی بلکه نور يې هم غښتلی کړی دی.

پاکستان چې اوس د مليارډو ډالرو په لګښت د ګوادر بندر جوړوي. له منځنۍ اسيا سره کلتوري او اقتصادي اړيکې ټينګول غواړي، د افغانستان له لارې منځنۍ اسيا ته د سړکونو او اورګاډو خوبونه رښتيا کول غواړي، او د افغانستان له لارې د ګازو او تېلو نلونه تېرول غواړي، نو بيا په افغانستان کې دغه رنګه بېځايه لاس وهنې او د جنګ اور ته لمن وهل ښځي غير منطقي ښکاري.

په دې هر څه برسېره، د پاکستان د اقتصاد لويه برخه دا وخت له باندنی مرستو جوړېږي چې د ترهګرۍ په ضد مبارزې کې د مرستې په بدل ورکول کېږي. خو اوس هر چا ته جوته ده چې د ترهګری په ضد د پاکستان مرسته تش په نامه ده. او غربيان هر وخت کولای شي دغه مالي مرستې په پاکستان بندې کړي

څنګه چې نړيوال ايتلاف د افغانستان د بيا جوړونې ټينګه او د اوږدې مودې ژمنه کړې ده. نو په داسې حالاتو کې د پاکستان له لوري پخوانۍ کرغېړنې تګلارې ته دوام ورکول نړۍ سره د جنګ کولو مانا لري. او داسې ښکاري چې د پاکستان د واک پړې د داسې مشرانو په لاس کې دی، چې ترشايې بيا د ای، ایس، ای يو تعداد خلک ولاړ دي، او دوی کنټرولوي چې خپلې شخصي ګټې تر هر چا، هر هيواد، دين او هر پېغور ورته ګرانې دي. په بله مانا دغه ملک د يو مافيا له خوا کنټروليږي.

هر کله چې د يو هيواد د مشرتابه واګې د داسې مشرانو په لاس ورشي نو د ژوند مزل يې ډېر لنډ شي. څکه خو تېره اونۍ د نړۍ د ناکامه هيوادو په قطار کې پاکستان له څلورډېرشم نه نهم شمېر ته را پرېووت.

په پاکستان کې دننه او نږدې چاپېريال ته که سړی خير شي نو دومره ويلای شي که چيرې په راتلونکو کلونو کې دغه ملک نور هم په څټکې له خپلو پښو و نه لوېد نو دا به يوه معجزه وي.

قحط الرجال یا د روشنفکرو انسانانو قحطي

محمد اسرار

ولسمشر حامد کرزی خپله کابينه ولسی جرګی ته وړاندی کړله او د ولسی جرګی غړيو دوزيرانو د تيرو کارنامو په اساس هغوی ته مثبت او منفی رای ورکړلی دا د هغوی مسؤليت دی چی کوم وزيران يی ددی وړ وبلل چی هغه بايد په نوی کابينه کی وی او پنځه وزيران يی د کابينی له لست څخه ليری کړل يعنی هغوی د ولسی جرګی د غړيو څخه د اعتماد رايه ترلاسه نکړی شوه.

دا خو د وکيل صاحبانو مسؤليت و چی هغوی خپله غاړه خلاصه کړله خو اوس کرزی صاحب هم قسم خوړلی چی رهين او فرهنګ بايد حتماً په خپله کابينه کی ځای په ځای کړی

په افغانستان کی قحط الجال يعنی د پوهانو او د انسانانو قحطی راغلی ده او د رهين او فرهنګ څخه په غير نور هيڅوک ددی وړ ندی چی هغه دی وزير شی. خو دا اوس د ولسی جرګی د وکيلانو مسؤليت دی چی هغوی په خپلو ځانونو باندی او په خپل قول باندی تر کومه حده پوری متکی دی او ايا هغوی خپله فيصله بدلوی او که بيا هم هماغه فيصله کوی نو زما په نظر که کرزی صاحب پنځه ځله هم دغه دوه وزيران ولسی جرګی ته وړاندی کړی نو د هغوی فيصله بايد چی هم هغه يوه فيصله وی او دغه کسان بيا هم رد کړی . دا څکه چی دغه دواړه چی يو خل د ملت داستازيو له خوا رد شول او اوس دوی ددوهم خل لپاره بيا ځانونه امتحان ته د څه لپاره وړاندی کوی

د ولسی جرګی غړيو ته زما دا سوال دی چی که په رښتيا ځانونه افغانان او د همدې ملت خدمتګاران بولی نو پر خپله مخکنی خبره او فيصله به ودرېږي او که د اعتماد رايه مو ورکړله نو تاسی به د ملت په وړاندی بې اعتماده شی .

اردوی امریکا نا آرامی های گوانتانامو را 'فرونشاند'



اردوی امریکا می گوید نا آرامی در زندان خلیج گوانتانامو در کوبا را فرونشانده است.

یک سخنگوی نظامی گفت که ماجرای روز پنجشنبه زمانی آغاز شد که چندین زندانی برای کشاندن نگهبانان به بند، صحنه ای از آنچه ظاهرا تلاش برای خودکشی به نظر می رسید ترتیب دادند. این سخنگو گفت سپس ۱۰ مرد با سلاح های دست ساز به زندانبانان حمله کردند اما به گفته وی، نظم با توسل به 'حداقل زور' مجددا برقرار شد.

اردوی امریکا گفت که این حادثه جدی ترین مورد بروز خشونت در این زندان بو:

پیشتر در روز پنجشنبه دو زندانی دیگر سعی داشتند با خوردن مقدار زیادی دارو خودکشی کنند که نگهبانان مانع آنها شدند.

این نخستین بار است که جزئیاتی از نا آرامی در خلیج گوانتانامو با شرکت شماری از بازداشتی ها منتشر می شود

در حدود ۴۲۰ پیکارجوی مظنون اسلام گرا بدون محاکمه در آنجا زندانی هستند.

در درگیری های جداگانه...

به اساس گزارش آژانس خبری پژواک و به نقل از اعلامیه مطبوعاتی نیروهای ائتلاف فرمانده قطعه مشترک عملیاتی ۷۵ نیروهای ائتلاف از کشته شدن این سرباز امریکایی در ولسوالی چهار چینوی ولایت ارزگان اظهار تاثر کرده است.

گفته میشود مجروحان این رویداد به یک مرکز صحی انتقال داده شده اند و وضع صحی آنان خوب است. همچنان وزارت دفاع از کشته شدن ۱۶ طالب جنگجو در ولایت غزنی و بازداشت ۱۰ طالب مشکوک در ولایت پکتیکا خبر داد جنرال ظاهر عظیمی سخنگوی وزارت دفاع طی اعلامیه مطبوعاتی گفته است نیروهای اردوی ملی به همکاری نیروهای هوایی ائتلاف بین المللی روز گذشته در مناطق واغس و نانی ولایت غزنی ۱۶ طالب را به قتل رسانیدند.

در اعلامیه آمد است درنتیجه این عملیات ۸ میل کلاشینکوف نیز بدست نیروهای اردوی ملی افتاده است. در اعلامیه هم چنان آمده است که نیروهای اردوی ملی روز گذشته ۱۰ فرد مشکوک طالبان را همراه با دو پایه تیلیفون ثریا در ولسوالی خیر کوت ولایت یکتپکا باز داشت نمودند.

اخبار ضد و نقیض پیرامون ...

این خبر در حالی منتشر می شود که پولیس می گوید در یکی از خشونت بار ترین روزها از زمان سرنگونی طالبان در سال ۲۰۰۱، بیش از ۱۲۰ نفر کشته شده اند.

مقامات در ولایت هلمند می گویند در جریان هجوم نظامي، ده ها ستیزه گر، و نیز دست کم ۱۳ پولیس کشته شده انشد

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: 070222726
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com